


یـــاره! لکـــه چي طالبان بیـــارا روان دي ۲۰۱۱.۱۲.۳۱

بســــــمل

نن د ۲۰۱۱ ز کال وروستی ورځ ده دهمدې کال په خبته کي دومره لغتي ووهلي شوې، چي دوړې یې تر اسانه پوري ورسیدي .

په تاریخ کي بیا نه راګرزیدونکي ۲۰۱۱ یوولسم کال له ځان سره مهمې پیښې لرلې دبیلګې په ډول :

ـ ددنیاله هغه سره راغلو ښکرورخیل پخوانی یار اسامه بن لادین له یوې سوړې څخه راوپست اوبیایې بې پوښتني په سمندر؟؟ ورلاهو کړ .

ـ برهان الدین رباني چي یېشوته ورته اووه ساوې یې لرلې اوچایې هیڅکله هم دادا ډول مړینې تصور نه شوای کولای هغه هم ۲۰۱۱ یوولسم کال والوزاوه .

ـ نړیوالو زورورو په همدې ۲۰۱۱ یوولسم کال کي یو ځل بیاالکي ډانګ او سره ښکر په ښکر شول .

ـ په ۲۰۱۱ یوولسم کال کي خورازیاتي مهمي پیښي وشوې خو څه، چي ماته تربل هر څه په زړه پوري دي هغه دا ، چي نړی یو ځل بیا په قطبونو وېشلو ته برابره شوه، د دې خبرې تشریح او تفصیل به بیا له خیره سره په بله لیکنه کي وکړم لنډه دا ، چي ۲۰۱۱ یوولسم کال له تېرو لسو کلونو سره ځکه ډېر توپیر لري، چي ۴۸ خلو ښتو هیوادونو په غیر مستقیم ډول هغه چاته غاړه ورکړه اوکه نور هم په زغرده ووایم هغه چا ته یې غاړه(اورمبګ) ټیټ کړ، دکوم چا حکومت او نظام، چي دوی را پرزولی و مانا طالبانو ته .

له طالبانوسره پټي او ښکاره خبرې په همدې ۲۰۱۱ یوولسم کال کي نه یوازي بربنډې شوې، بلکي په قطر کي یې د دې پروسې لپاره د فتر هم ورته ومانه دا دطالبانو د رسمیت پېژندلو په مانا ده .

هر څوک چي دطالبانو له فزیکي شتون، مقاومت او اغېز څخه ستر ګي پټوي هغوی خپل ځانونه غولوي . دطالبانو ظهر، پرمختګ، واکمني اودنظام رانسکورول یې هغه څه و ، چي موږ پخپلو ستر ګو ولیدل . د طالبانو د حیرانوونکي خوځښت رامینځ ته کوونکي، ملاتړي او دقدرت له ګدۍ څخه راغورځوونکي هم موږ ولیدل او له روانو ډرامو څخه مو ډېر څه زده کړل .

دنیویارک دپیښي اواسامه په پلمه دیومملکت دقائم نظام نړول، دبشریت په ستر ګوکي له خاورو شیندلو نه پرته بل څه نه شو بللی .

داچي دکوموموخولپاره اوڅنګه دطالبانوخوځښت پیاوړی اوبیاوځپل شو په دې خو اوس زموږ تنکي زلمیان هم ښه پوهیږي .

کوم څه چې اوس بايد سم ځانونه پرې پوه کړو هغه د طالبانو لس کلن مقاومت، ځواک او يو ځل بيا د سياست ډګر ته د هغوی را رسېدل او بيا را بلل دي .
د دې تر څنګ د هغو کسانو تشخيص هم ډېر اړين دی کوم، چې د طالب په نوم او جامه کې اسلام ضد اعمال تر سره کړي او يا يې کوي په تېره بيا په پښتون مېشتو سيمو کې د علم او عرفان د ډېوو وژونکي دريادوم .
زه چې نږدې د دری نيمو لسيزو د غميزو شاهد ، ليکوونکی او څېړونکی يم د اسې را ته ښکاري لکه چې طالبان بيا را روان دي .
که رښتيا هم طالبان راتلونکي وي نو زه د يو افغان په صفت څو لاندې وړانديزونه ورته لرم :
١ـ قدرت ته د رسېدو لپاره بايد داسې څه و نه مني ، چې ملي ګټې او ملي حاکميت پکې زيانمن شي .
٢ـ قدرت ته د رسېدو لپاره بايد هيڅ داسې څه و نه مني، چې خدای (ج) مکروه د هيواد د تجزيې سبب وګرزي .
٣ـ د مذاکرو په جريان کې بايد په لويديځوالو ومني تر څو نړيوالې محاکمې ته جنګي جنايتکاران راکش او د هغوی د منقولې او غير منقولې دارايي سپيناوی وکړي .
٤ـ د ملي او افغاني غرور له مخې بايد د بهرنيو پوځي اډو په کلکه مخنيوی وکړي ځکه، چې بهرنی پوځي اډې نه يوازې زموږ د ملي او تاريخي غرور ماتوونکې دي، بلکې سيمې زې لانجې هم را پورته کولای شي .
٥ـ د فعال او مثبت ناپيلتوب سياست په مخ وړل او بيا خو د ناټو په سازمان کې شاميلېدل تر څو د ګاونډيانو له غابښ چيچلو څخه بې غمه شو ، زه د بهرنيو پوځي اډو بهترين بديل د ناټو په پوځي سازمان کې د افغانستان غړيتوب ګڼم .
کله چې تېر ځل طالبانو کابل ونيو په جرمني کې د يو شمېر افغانانو له خوا د طالبانو د ملاتړ لپاره لاريون وشو ما لا په هغه وخت کې د ناټو په پوځي سازمان کې د ګډون وړانديز ورلېږلی و .
دا چې مشرانو ته به يې زما وړانديز رسېدلی وي که نه زه نه پوهېږم خو که په رښتيا هم په هغه وخت کې ګران افغانستان د ناټو سازمان غړی شوی وای اوس به زموږ هېواد بل ډول منظر درلود.
زموږ بې ګناه افغانان (پښتانه) به د القاعده، يو اوبل په نوم نه ځپل کېدل ، په لر او بر به لمبې نه را اورېدې موږ به يو پياوړی اګاه او په علم پوښلی نسل درلود د ځانمرګو د باب پرانستنه به نه وه شوې .
د دې هرې بريا او پرمختګ تر څنګ به مو پياوړی،اقتصاد ، اردو او پوليس لرل څه چې خورا زيات مهم و هغه دا ، چې د نړۍ په کچه به د اسلام مقدس دين ته دومره سپکاوی نه و شوی لکه د ٢٠٠١ د سپتمبر له يوولسمې نېټې څخه چې کيږي .
په هر صورت وايي :
له ورخ تېرې او به بېر ته نه جاروزي .
خو بل ځای وايي :
په کوم لښتي کې، چې اوبه تللې وي بيا هم پرې بهېدلای شي .
له پورتنۍ ليکنې سره يو بل اړين متل را ياد شو وايي چې :
کونډې و پېيل ، که دا ځل يې ودولم ينکی مې ښه زده کړی دی .

نو ای افغان طالبانو!

که په ربښتیا هم دا ځل قدرت ته ورسېدئ نو سم ینکی به کوئ تر څو دټولو تېرو کمیو جبران پکې وکړئ

.

په اخېر کې یو ځل بیا دیو افغان په صفت له تاسو څخه هیله کوم، چې تر بل هر څه لمړی زموږ د پلرنۍ خاورې ملي تمامیت ته پام و ساتئ، البته په دې اړوند مې تېره اونۍ هم د آزادي رادیو له لارې په تاسو غږ کړی دی .

## یادونـــــــــــــــــــه :

زما دننۍ لیکنې د ځینو برخو دلا پخلي لپاره د روهي له برېښنا پاڼې څخه دالاندې نوی خبر تاسو ته وړاندې کوم په دې خبر کې ذکر شوي چې دطالبانودقطر دفتر ته ۱۰۰ میلیونه ډالر ځانګړي شوي دي دا هم بایدزیاته کړم ، چې درباني ترمشرۍ لاندې په اصطلاح دسولې شورا ته هم امریکا ۲۵۰ میلیونه ډالر ورکړي دا هم په پام کې ولرئ، چې دیو امریکایي سرتېري کلنی لګښت ۲۵۰میلیونو ډالرو ته رسیږي .

په قطر کې دطالبانودفتر په اړوندبرهان الدین رباني خوراکلک غبرګون ښوولی وتاسویې په لاندې لینک کې لوستی شئ :

**http://nakhtar.bloguna.tolafghan.com/posts/16549**

**له پاملرنې څخه مویوه نړۍ مننه**

سرچینه : په قطر کې د طالبانو ددفتر لپاره ۱۰۰ میلیونه ډالر ځانګړي شوي دي .



یوې باوري سرچینې رسنیو ته وویل، چې د طالبانو د قطر دفتر ته ۱۰۰ میلیونه ډالره بودجه ورکړل شوې او امریکا او جرمني د نورو مرستو ژمنه هم ورسره کړې ده. د امریکا متحده ایالات له ګوانتانامو زندان نه د طالبانو پنځه مهم مشران خوشي کوي. ددغو پنځو طالب مشرانو کورنۍ قطر هېواد ته استول شوي او کېدای شي په نږدې ورځو کې دوی هم دوحې ته ورسیږي. په خوشي کېدونکو طالب مشرانو کې د

طالبانو لوی درستیز ملا فاضل د طالبانو دشمال زون تنظیمه رییس نورالله نوري دطالبانو دملي امنیت مرستیال عبدالحق وثیق د طالبانو مالي مرستیال حاجي محمد ولي خوستی او دطالبانو دهرات پخوانی والي ملا خیر الله خیر خواه . دسرچینې دمعلوماتو له مخې ملا فاضل په ګونتنامو کې مریض دی قطر ته له رسیدو سره سم به روغتون کې بستري شي .

د یادوني ده ، چې مولوي عزیز الرحمن په اماراتو او شهاب الدین دلاور په پاکستان کې دطالبانو پخواني سفیرانو ترڅنګ د ملا محمد عمر سکرتر سید طیب اغا له لسو میاشتې راهسې ددې خبرو یوه برخه وه ځینې استخباراتي راپورونه دا هم وایي ، چې دملا عبدالسلام ضعیف او طیب اغا په قطر کې دامریکایي ځواکونو دالعدید په اډه کې څو ځلې لیدلي دي .